
د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د کندهار ولایت پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت

# د کندهار ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: حمل – حوت کال ۱۴۰۴

## مطالبو نوملړ

د کندهار ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 5
سریزه ........ 6
کړنو لنډیز ........ 7
د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او لومړیتوبونو پر بنسټ ........ 9
برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 9
1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال ........ 9
1.2 مدرس/ استاد/ښوونکی ........ 10
1.3 نصاب ........ 11
1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 11
1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 11
1.6 د ټولنې ګډون ........ 12
1.7 مدیریت ........ 12
برنامه 2: ښوونه او روزنه ........ 13
2.1 زده کووونکی ........ 13
2.2 ښوونکی ........ 16
2.3 نصاب ........ 19
2.5 روزنیز چاپیریال ........ 20
2.6 د ټولنې ګډون ........ 26
2.7 مدیریت ........ 26
برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 29
۳.۱ مدیریت ........ 29
برنامه 4: مالي او اداري ........ 32
4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال ........ 32
4.2 مدرس/استاد/ښوونکی ........ 32
4.3 نصاب ........ 32
4.4 ښونیزه ارزونه ........ 33
4.5 رونیز چاپیریال ........ 33
4.6 د ټولنې ګډون ........ 34
4.7 مدیریت ........ 35
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و ...) ........ 37
5.1 طالب العلم/ حافظ/ زده‌کوونکی/ سواد زده کړو زده کړیال ........ 37
5.2 مدرس/استاد/ښوونکی ........ 37

5.3 نصاب ........ 37
5.4 ښوونیزه ارزونه ........ 37
5.5 روزنیزه ارزونه ........ 37
5.6 د ټولنې ګډون ........ 37
5.7 مدیریت ........ 37
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 39
د پایلې او شننې لنډ جدول ........ 39
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 42
مالي رپوټ تحلیل ........ 43
ملپاڼې ........ 44

## د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورني نوم | دنده | بریښنالیک | گرخنده شمېره.اووتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي ولي محمد(شهاب) | دتضمین کیفیت آمر | بریښنالیک نلري | 0705560055 | |
| مولوی محمد اکرم شاه اغا | دښوونې او روزنې آمر | بریښنالیک نلري | 0707102882 | |
| مولوي نیک محمد(نقشبندي) | دمنابع او اداري آمر | بریښنالیک نلري | 0705491055 | |
| مولوي احمدالله (احمدي) | داسلامي زده کړو آمر | بریښنالیک نلري | 0700078824 | |

دپوهني درئیس تاییدي:

| نوم او کورني نوم | دنده | بریښنالیک | گرخنده شمېره،اووتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي فخرالدین (نقشبندي) | کندهار ولایت دپوهني رئیس | بریښنالیک نلري | 0703997478 | |

## د کندهار ولایت په هکله عمومي معلومات

**کندهار ولایت د افغانستان د جنو ب‌لوېدیځ له مهمو ولایتونو څخه شمېرل کېږي، چې له تاریخي پلوه د هېواد له لویو او پخوانیو مرکزونو څخه بلل کېږي. د دې ولایت مرکز کندهار ښار دی. د مرکزي احصائیې د اداري د وروستیو ارقامو له مخې، د کندهار ولایت ټول نفوس شاوخوا ۲ میلیونه تنه اټکل شوی، چې نږدې نیمایي برخه یې ښځینه جوړوي.**

**که څه هم د ښوونې او روزنې په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی، خو دا خدمات په ټولو ولسوالیو کې یوشان نه‌دي برابر شوي، او لا هم ځینې سیمې د ښوونیزو خدماتو له مساوي لاسرسي څخه بې‌برخې دي.**

**همدارنګه، د نفوس د وېش له مخې، ۲۲ سلنه خلک په ښاري سیمو کې، او ۷۸ سلنه خلک په کلیوالو او اطرافو سیمو کې ژوند کوي.**

### جغرافیا:

**کندهار ولایت د افغانستان له مهمو او ستراتیژیکو ولایتونو څخه ګڼل کېږي چې ټول مساحت یې ۵۴،۰۲۲ کیلومتره مربع دی. دا ولایت له شمال څخه د ارزګان، له شمال ختیځ څخه د زابل، له لویدیځ څخه د هلمند او له سوېل او سوېل ختیځ څخه د پاکستان له بلوچستان ایالت سره ګډ سرحد لري. له جغرافیوي پلوه، د کندهار تر ټولو لویه ولسوالۍ ډنډ ده، چې د پاکستان سره د دیورند پر فرضي کرښه پرته ده. کندهار ولایت د خپل مرکز په ګډون ۱۷ ولسوالۍ لري، چې په لاندې ډول دي: دامان، ارغنداب، شاه‌ولي‌کوټ، خاکرېز، نېش، میانشین، غورک، ښورابک، ریګستان، معروف، ارغستان، تخته‌پل، سپین بولدک، ژړی، پنجوایي، میوند او ډنډ.**

### ښوونه او روزنه:

**کندهار ولایت د پوهنې په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی او زرګونو ځوانانو ته یې د زده کړې مناسب فرصتونه برابر کړي دي. دا ولایت په خپل تشکیل کې ټولټال (۴۷۲) بابه دولتي ښوونځي لري، چې له ډلې یې (۹۱) لیسې، (۸۴) متوسطې او (۲۹۷) ابتدائیه ښوونځي دي.**

**برسېره پر دې، د پوهنې ریاست تر چتر لاندې د سواد زده کړو (۲) مرکزونه، د ښوونکو د روزنې (۱) مرکز او د ښوونکو د روزنې (۷) حمایوي مرکزونه شتون لري، خو دا مرکزونه په اوسنۍ مرحله کې غیرفعاله دي.**

**د ښوونې او روزنې د برنامې له مخې، دا مهال په دولتي ښوونځیو کې ټولټال (۲۵۳۹۱۴) تنه زده‌کوونکي شامل دي، چې له دې ډلې (۱٦۲۴٦۹) تنه هلکان او (۹۱۴۴۵) تنه نجونې دي. همدارنګه په کندهار ولایت کې (۹۳) بابه خصوصي ښوونځي هم فعالیت لري، چې ټولټال (۲۵۱۳۵) زده‌کوونکي پکې زده‌کړې کوي؛ له دې ډلې (۱۹۲۳۳) هلکان او (۵۹۰۲) نجونې دي.**

**کندهار ولایت د زده کړې د پراخوالي او د علم د عامولو په برخه کې خپلې هڅې دوامداره ساتلي دي. که څه هم یو شمېر ښوونیز بنسټونه غیرفعاله شوي، خو لا هم د زرګونو ماشومانو او ځوانانو لپاره د پوهې دروازې پرانیستې دي.**

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين و الصلوة و السلام علی سيد المرسلين و علی آله و اصحابه اجمعين. امابعد:

د کندهار ولایت د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار د عناصرو او لومړیتوبونو پر بنسټ جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دي، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه يې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کیفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بڼه والې ور وبخښي.

د کندهار ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام د عملیاتي پلان د ۱۴۰۴ کال د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د عناصرو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتي تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکې دي.

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د عناصرو او لومړیتوبونو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیرۍ برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاتو برخه

# کړنو لنډیز

### 1. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

- د دې ولایت په کچه ټولټال په ۵۴۹ بابه مدرسو او ۳ بابه دارالحفاظونو کې ۴۳۴۲ تنه نارینه او ۲۸۹۸ تنه ښځینه طالب العلمان جذب شوي دي.
- د حفظ دورې ټولټال ۴۴۹ تنه حافظانو ته او همدارنګه د خامسې درجې ۱۴۳ تنه طالب العلمانو ته د فراغت سندونه وېشل شوي دي.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د دې ولایت په کچه د ۴۱۹ بابه ښوونځیو د شوراګانو د فعالیتونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د یاد ولایت په کچه ټولټال ۱۳۸۷۳ تنه زده کوونکي د زده کړو په موخه جذب شوي، چې له دې ډلې ۱۰۳۴۱ تنه نارینه او ۳۵۳۲ تنه ښځینه دي.
- د ارغستان او نیش ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ټولټال ۳۶۳ تنه زده کوونکي د روغتیا د ورځې د ټرلاسه کولو په موخه اړوندو روغتیايي مرکزونو ته ورپېژندل شوي دي.
- د میانشین ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوندو ښوونځیو کې ۴۸۸ تنه زده کوونکي د کولمو د چنجیو ضد ټابلیټونو څخه برخمن شوي دي.
- د ښوونې او روزنې آمریت له لوري ټول ۱۶۱ تنه یتیم، بېوزله او معلول زده کوونکي د زده کړې په موخه مرکزي خصوصي ښوونځیو ته د فیس د تخفیف لپاره ورپېژندل شوي دي.

### 2. مدرس/استاد/ښوونکی

- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمریت اړوند ټولټال ۸۱ تنه مدرسین او استادان ارزول شوي دي.
- د مسلکي پراختیا غړو له لوري د رشتې سره سم د ۵۳۰ تنو ښوونکو د ګمارنې له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار د ښوونځیو پوهنې آمریت او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند په ټولیز ډول د ۴۲۲ بابه ښوونیزو مرکزونو په کچه د لارښود د تطبیق د ډاډ ترلاسه کولو په موخه څارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښاري ښوونځیو او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې د ۵۹۷ تنه اصول صنفي ټولګیو لپاره د مناسب ښوونکو د توظیف له بهیر څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د دې ولایت په کچه ټول ۳۲ تنه علمي غړي مقرر شوي دي.
- ۸۴ تنه مدرسینو ته د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مسلکي سمینار د خارنې په برخه کې سمینارونه دایر شوي او هغوی له اړوندو زده کړو څخه برخمن شوي دي.
- د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښاري ښوونځیو پوهنې آمریت اړوند ټولټال ۸۱ تنه مدرسین او استادان ارزول شوي دي.
- مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمریت او د ارغستان، خاکریز، معروف، ښورابک، غورک، شاولیکوټ، میانشین، پنجوايي، دامان، بولدک، کښته میوند، ډنډ، ارغنداب او نیش ولسوالیو په کچه، ټولټال په ۱۴۰ بابه ښوونیزو مرکزونو کې ۲۷۲ تنه د رشتې خلاف ښوونکو ته لازمي لارښوونې شوي دي.

د تشکیلاتو مدیریت له لوري د ښاري ښوونځیو پوهنې آمریت او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ټول ۵۳۰ د ښوونکو سپین بستونه تثبیت شوي دي.

### 3. نصاب

- د نشراتو ریاست له لوري د کندهار پوهنې ریاست ته د عمومي زده کړو لپاره د لومړي تر پنځم ټولګي پورې ټولټال ۷۰۰۰۰ جلده کتابونه ورکړل شوي دي.
- د ښار پوهنې آمریت او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ټولټال ۱۶۳۱۵ تنه زده کوونکو ته مرستندویه درسي مواد وېشل شوي دي.

### ۴. روزنيز چاپېريال

- د اسلامي زده کړو آمريت د علمي غړو له لوري د مرکزي ۹ بابه (حماديه، اشرفيه، نعمانيه، حکيميه، جامعه الحق مدرسه، سعد بن معاذ، نعمانيه نقشبنديه، اشرفيه خانگاه او نقشبنديه) مدرسې د دارالعلوم ته د ارتقاء په موخه څېړل شوي دي.
- د بولدک ولسوالۍ د پوهنې آمريت اړوند يو باب ديني مدرسه د (خالد بن وليد) په نوم تاسيس شوې ده.
- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري يو باب ديني مدرسه د (شهيد همايون) څخه (انوار صديقيه نقشبنديه) مدرسې ته بدلون موندلی دی.
- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د ډنډ، ارغستان، کښته ميوند، ريگستان، ژړي او ميانشين ولسواليو د پوهنې آمريتونو اړوند په ښوونځيو کې (۳۳۵) بابه بې‌ښوونکو ټولگي پېژندل شوي دي.
- د ريگستان، ارغنداب، کښته ميوند، پنجوايي او ډنډ ولسواليو د پوهنې آمريتونو اړوند په ښوونځيو کې د بې‌ښوونکو ټولگيو لپاره ټول (۴٦۹) تنه ښوونکي په عادي قرارداد سره مقرر شوي.
- د ښاري ښوونځيو، ډنډ،پنجوائي او ميوند ولسوالۍ دپوهنې آمريتونو په (۳۴) بابه ليسې چې له دوه وختونو څخه زيات درسي وختونه لري پيژندل شوي دي.
- د ښاري ښوونځيو آمريت له لوري يو باب دولتي (گړيوال) ابتدائيه ښوونځی منځنی ښوونځي ته ارتقا کړی دی.
- د مرکز ساينس مديريت له خوا ښاري او لسواليو٦ بابه ښوونځيو کې د ساينسي زده‌کړو د پياوړتيا په هدف لابراتوارونه رامنځته شوي دي.
- په مرکز کندهار ښار کې، د "شفق کانکور آمادگي" ښوونيز مرکز په رسمي ډول "افغان کانکور آمادگي" ته نومول شوی او نوی فعاليت يې پيل کړی دی.
- د ښار پوهنې آمريت او دامان ولسوالۍ پوهنې آمريت اړوند ښوونيزو مرکزونو کې ۴۹۸ دانې مثمر او غير مثمر نيالگي د شنو ساحو د رامنځته کولو په موخه کينول شوي دي.

### ۵. مديريت

- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمريت او ( ارغستان. ژړی، نيش او بولدک) ولسواليو پوهنې آمريتونو اړوند ۴۱۲ بابه ښوونځيو او ۳٦بابه د سواد زده کړې له کورسونو څخه خارنه ترسره شوې ده.
- د ښاري ښوونځيو او د معروف او ډنډ ولسواليو د پوهنې آمريتونو له لوري په ۱۲۳ بابه ښوونځيو کې د څارندوي گروپونه رامنځته شوي دي.
- ۱۷۰ بابه ښوونځيو کې د مخدره توکو د زيانونو او د استعمال د مخنيوي په موخه د عامه پوهاوي پروگرامونه ترسره شوي دي.
- د مرکز ساينس مديريت د علمي غړو له لوري د ۸٦ بابه دولتي او خصوصي ښوونځيو د لابراتوارونو او کمپيوټر ليبونو له فعاليتونو څخه خارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د ښاري ښوونځيواو( ارغستان. ژړی، نيش، ميانشين،ريگستان، ارغنداب، کښته ميوند،پنجوائی، دامان، خاکريز،ډنډ او بولدک) ولسواليو دپوهنې آمريتونو اړوند ۴۱۲ بابه ښوونځيو او ۳٦ بابه د سواد زده کړې له کورسونو څخه په وار وار خارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د ښاري ښوونځيو د پوهنې آمريت او ولسواليو دپوهنې آمريتونو اړوند ښوونځيو کې ټولټال ۷۱٦٦ تنه ښوونکو د رشتې مطابق د تدريس له جريان څخه خارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختيا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمريت او د ولسواليو د پوهنې آمريتونو کې ټولټال ۹۵۹ تنه سرښوونکو او ۸۲۱ تنه مديرانو او آمرينو د مسلکي کړنو د ښېر څخه ليدنه ترسره شوې ده.
- د ښار پوهنې آمريت او ( ښورابک، ميانشين او غورک) ولسواليو پوهنې آمريتونو اړوند ۹٦ بابه ښوونځيو کې د مخدره توکو د زيانونو او استفادې پرضد عامه پوهاوي پروگرامونه ورکړل شوي دي.
- د نتايجو او شهادتنامو مديريت له لوري، د ۵۸ بابه دولتي ښوونځيو ۱۸۴٦پاڼې اسلامي زده کړو آمريت اړوند۲۰ پاڼې او دښوونکو دروزنې آمريت ۲۰ پاڼې شهادتنامې په انفرادي ډول ترتيب، تدقيق، طی مراحل او ويشل شوي دي.
- د نتايجو او شهادتنامو مديريت له لوري، د ۷۲ بابه دولتي ښوونځيو ٦۲۲۳ پاڼې شهادتنامې په گروپي ډول ترتيب، تدقيق، طی مراحل او ويشل شوي دي.

## د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او لومړیتوبونو پر بنسټ

دا برخه د پرمختګونو، احصاییوي معلوماتو او شمېرو تحلیل او تفسیر په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.

### برنامه 1: اسلامي زده کړې

#### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

##### 1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو ته په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**۱.۱ فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونوکې د طالب العلمانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د دې ولایت په کچه په ۵۴۹ بابه مدرسو او ۳ بابه دارالحفاظونو کې ټولټال ۴،۳۴۲ تنه نارینه او 2,898 تنه ښځینه طالب العلمان جذب شوي دي.

**۱.۲ فعالیت: په دارالعلومونوکې د شمولیت زیاتوالی**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۱ باب درالعلوم کې ټولټال ۲۰۶۱ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې د یادو ارقامو له جملې څخه لومړې ټولګې ته ۱۱۳ تنه، د ۱-۳ ټولګې ته ۲۶۵تنه، ۴-۶ ټولګې ته ۳۲۰ تنه، ۷-۹ ټولګې ته ۴۱۰ تنه، ۱۰-۱۱ ټولګې ته ۴۳۷ تنه او ۱۲ـ ۱۴ ټولګې ته ۵۱۶ تنه طالب العمان دیني زده کړو په موخه جذب شوي دي.

**۱.۳ فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د مرکزونو په لیلیو کې جذب شوي طُلاب**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د اسلامي زده کړو آمریت ته د نویو لیلیو د رامنځته کولو په موخه کومه سهمیه نه ده ورکړل شوې، له همدې امله طالب العلمان ترې بې برخې پاتې شوي دي.

##### 1.1.2 لومړیتوب: د شهادتنامو وېش

**۱.۱ فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه د ازمویني اخیستنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لورې، د ثانویه او مافوق ثانویه دورې ټولټال ۳۸۹ تنه طالب العلمانو څخه ګډه ازموینه اخیستل شوې ده.

**۱.۲ فعالیت: د خامسه او حفظ فارغانو لپاره د فراغت اسنادو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د دې ولایت په کچه د حفظ دورې ټولټال ۴۴۹ تنه حافظانو ته او همدارنګه د خامسې درجې ټولټال ۱۴۳ تنه طالب العلمان ته سندونه وېشل شوي دي.

##### 1.1.3 لومړیتوب: د شهادتنامو چاپ او وېش

**۱.۱ فعالیت: د عالیه دورې د شهادتنامو چاپ او وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې محترم وزارت له لوري د عالیې دورې لپاره شهادتنامې د اسلامي زده کړو آمریت ته په واک کې نه دي ورکړل شوي، له همدې امله نه دي چاپ او وېشل شوي.

### 1.2 مدرس / استاد/ښوونکی

#### ۱.۲.۱ لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لپاره د اړینو تدبیرونو نیول

**۱.۱ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د لاربنود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.**

**۱.۲ فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د لاربنود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.**

#### ۱.۲.۲ لومړیتوب: د صنفي اصولو/ لومړی دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه د اړینو تدبیرونو نیول

**۱.۱ فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د لاربنود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.**

**۱.۲ فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د لاربنود د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.**

#### ۱.۲.۳ لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې مطابق د مسلکي مدرسینو پر وخت گمارنه

**۱،۳ فعالیت :د کړنلارې مطابق د مرکز او ولایتونو په کچه د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکي مدرسینو څخه ازموینه اخیستل**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مدرسو کې د خالي بستونو او د تنقیصاتو د رامنځته کېدو له امله، د یادو بستونو لپاره د رشتې سره سم له مسلکي مدرسینو څخه ازموینه نه ده اخیستل شوې.**

#### ۴.۱.۲ لومړیتوب: د علمي کادر پلي کول

**۱.۴ فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو د علمي کادر او علمي رتبې اجراء کول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د پوهنې محترم وزارت له لوري دعلمي کادر او علمي رتبې داجراء په موخه کوم لاربنود ندي شریک شوی**

#### ۱.۲.۵ لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

**۱.۵ فعالیت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول.**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۸۴ تنه مدرسینو ته د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د مسلکي سمینار د ځارنې په برخه کې سمینار دایر شوی او له زده کړو څخه برخمن شوي دي.**

#### ۱.۲.٦ لومړیتوب: د طالب العلم د درسي پروګرامونو د تطبیق او زده‌کړې ارزونې د پایلو اوسط د څېړنې په موخه د پلاوي استول

**۱.٦ فعالیت: د طالب العلم د درسي پروګرامونو د تطبیق او زده‌کړې ارزونې د پایلو د اوسط څېړنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ۲ بابه دارالعلومونو د طالب العلمانو د درسي پروګرامونو د تطبیق او د زده‌کړو د ارزونې د پایلو د اوسط څېړنه ترسره شوې ده.**

#### ۱.۲.۷ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په مرکزونوکې د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه

**۱.۷ فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو له لوري د مدرسینو او استادانو د ارزونې څېړنه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښاري ښوونځیو پوهنې آمریت اړوند ټولټال ۸۱ تنه مدرسین او استادان ارزول شوي دي.

### ۱.۲.۸ لومړیتوب: له ولایتونو څخه د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه

**۱.۸ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا غړو د رارسېدلو راپورونو تحلیل او تجزیه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړوآمریت د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د لومړی، دوهمې، درېیمې او څلورمې ربعې راپور ترتیب او د پوهنې وزارت سره په خپل وخت شریک شوي دي.

## 1.3 نصاب

### ۱.۳.۱ لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالۍ په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

**۱.۱ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې محترم وزارت له لوري د دې ولایت د اسلامي زده کړو آمریت سره ۲۸ عنوانه تدوین شوي کتابونه نه دي شریک شوي.

### ۱.۳.۲ لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

**۱.۲ فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب مطابق د درسي کتابونو وېش**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې محترم وزارت له لوري د دې ولایت د اسلامي زده کړو آمریت سره د نصاب مطابق درسي کتابونه نه دي شریک شوي.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

### ۱.۴.۱ لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم ټولګي او څوارلسم ټولګي د علماء کرامو د سویې تثبیتول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د پوهنې محترم وزارت د حکم له مخې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د دې ولایت په کچه د دوولسم او څوارلسم ټولګي ټولټال ۳۳۵ تنه علماوو د سویې ارزونه او تثبیت ترسره شوی دی.

### ۱.۴.۲ لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل

**۲.۱ فعالیت: د ثانویه مرحلې، (د ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري، د دې ولایت په کچه د ثالثې، رابعې او خامسې درجو ټولټال ۱۹۸۷ تنه طالب العلمان څخه ګډه ازموینه اخیستل شوې ده.

**۲.۲ فعالیت: د فوق ثانویه مرحلې، (د سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو معینیت له لوري، د دې ولایت په کچه د سادسې او سابعې درجو ټولټال ۱۱۲٦ تنه طالب العلمان څخه ګډه ازموینه اخیستل شوې ده.

## 1.5 ښوونیز چاپیریال

### ۱.۵.۱ لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول

**۱.۱ فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو رامنځته کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اړوندو بستونو او تشکیلاتو د نشتون له امله، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

### ۱.۵.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

**۲.۱ فعالیت: په ۳۴ ولایتونوکې د لیلیې رامنځته کول.**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، یاد فعالیت د لیلیو د سهمیې د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

۲.۲ فعالیت د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د بولدک ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند یو باب دیني مدرسه د (خالد بن ولید) په نوم تاسیس شوې ده.

۲.۳ فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلون په موخه چا مراجعه نده کړې.

۴.۲ فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلون
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري یو باب دیني مدرسه د (شهید همایون) څخه (انوار صدیقیه نقشبندیه) مدرسې ته بدلون موندلی دی.

۲.۵ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسې لوړېدل
د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د ارتقاء شرایط یې ندي پوره شوي.

۲.٦ فعالیت: دارالعلوم ته د ارتقاء لپاره د مدرسو څېړنه
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت د علمي غړو له لوري د مرکزي ۹ بابه (حمادیه، اشرفیه، نعمانیه، حکیمیه، جامعه الحق مدرسه، سعد بن معاذ، نعمانیه نقشبندیه، اشرفیه خانګه او نقشبندیه) مدرسې د دارالعلوم ته د ارتقاء په موخه څېړل شوي دي.

### 1.6 د ټولنې ګډون
**د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل.**

### 1.7 مدیریت

#### ۱.۷.۱ لومړیتوب: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل
۱.۱ فعالیت: د دارالعلومونو د استادانو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۲ بابه دارالعلومونه (حکیمیه او جوادیه) کې له ټولټال ۷ تنه استادانو، مامورینو او اجیرانو څخه د علماوو شورا او د جهادي مدرسو د شیخانو د کمیټې له لوري ازموینه اخیستل شوې او مقرر شوي دي.

#### ۱.۷.۲ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش
۲.۱ فعالیت: هغو مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد چې بست ته اړتیا لري
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د تشو بستونو او تشکیلاتو د کمښت له امله د بستونو وېش او لېږد نه دی ترسره شوی.

#### ۱.۷.۳ لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش
۳.۱ فعالیت: جدیدالتأسیس مرکزونو ته د بستونو وېش او لېږد
د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري نویو تأسیس شوو مرکزونو ته د تشکیلاتو د کمښت له امله د بستونو وېش او لېږد نه دی ترسره شوی.

## برنامه 2: ښوونه او روزنه

### 2.1 زده کووونکی

#### ۲.۱.۱ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره عامه پوهاوی

**۱.۱ فعالیت: د ۱۴۰۵ ښوونیزکال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په منظور د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، د دې ولایت د پوهنې ریاست، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه، د ۱۴۰۵ ښوونیز کال لپاره، ۱۴۷۰ تنو مدیرانو، سرښوونکو، ښوونکو او د شوراګانو غړو ته پنځه ورځنی ورکشاپ ترسره شوی دی.**

**۱.۲ فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، د ښاري آمریت او ۱۹ ولسوالیو (میوند، تخته پل، شاولیکوټ، معروف، بولدک، ارغستان، میانشین، دامان، ارغنداب، پنجوایي، خاکریز، نېش، ریګستان، ژړی، ښورابک، سپین بولدک، کښته میوند، ډنډ او غورک) په کچه، ټولټال (۲۲۱) عامه پوهاوي غونډې د ښوونیزو مرکزونو په سطحه ترسره شوې دي.**

**۱.۳ فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د پوهنې آمرینو او د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمریت او (۱۵) ولسوالیو (میوند، میانشین، نېش، معروف، دامان، خاکریز، ارغستان، ژړی، ارغنداب، کښته میوند، ډنډ، بولدک، پنجوایي، ښورابک او غورک) په کچه د (۴۱۹) بابه ښوونځیو د شوراګانو د فعالیتونو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.**

**۱.۴ فعالیت: د بېلابېلو کچو په سرو او تودو سیموکې لارښوونه او د عامه پوهاوي برنامې دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د کندهار ولایت په کچه د ارغستان، کښته میوند، ژړی، ډنډ، بولدک، خاکریز، ښورابک، نېش او غورک ولسوالیو کې ټولټال ۸۶ د عامه پوهاوي برنامې په لاره اچول شوي دي.**

**۱.۵ فعالیت: د غړیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د غړیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي بروشرونو او پاڼو چاپول د بودیجې د نشتون له امله نه دي ترسره شوي.**

#### ۲.۱.۲ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**۲.۱ فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونوکې د زده‌کوونکو غیرحاضري او زده‌کړې پرېښودل ۲ سلنه ټیټوالی مومي**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت په کچه په ۵ ولسوالیو کې د زده کوونکو د غیرحاضرۍ او د زده‌کړو پرېښودو په برخه کې ۲ سلنه کموالی راغلی دی.

**۲.۲ فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دښوونې او روزنې آمریت اړوند د ښاري ښوونځیو او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په ښوونځیو کې ټولټال ۱۳۸۷۳تنه زده کوونکي د زده کړو په موخه جذب شوي دي، چې له دې ډلې ۱۰۳۴۱ تنه نارینه او ۳۵۳۲تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**۲.۳ فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسه دوروکې د ټولګي د تثبیت او سویې ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو، تر لنډمهاله ښوونې لاندې او سوابقو راوړونکو جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري ټولټال ۲۶۵۷ تنه په لومړۍ دوره کې، ۴۸۲ تنه په منځنۍ دوره کې او ۹۴۹ تنه په لیسه دوره کې د سویې د تثبیت ازموینې وروسته په ښوونځیو کې جذب شوي دي. همدارنګه د اړوندو ښوونځیو له لوري ټول ۱٦۱ تنه اناث زده کوونکې د سویې ازموینې له لارې ټولګیو ته جذب شوي دي.

**۲.۴ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د همکارو مؤسسو په مرسته له ښوونځي څخه په مخکې برنامه کې د جدیدالشمولانو جذبول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې د همکارو مؤسساتو دنشتون له امله له ښوونځی څخه مخکې کومه برنامه نده رامنځته شوې ترڅو زده کوونکي ورته جذب شي.

**۲.۵ فعالیت: له پولې څخه بهر د ښوونیزو اسنادو نه لرونکو متقاضي راستنېدونکو او مجاهدینو د ټولګي تثبیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د ښوونې اوروزنې آمریت اړوند اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري ټولټال ۵۰۱ تنه راستنیدونکي متقاضیان چې د بهر څخه راستانه شوي همداشان د بولدک او ژړۍ ولسوالیو د پوهنی آمریتونو لخوا٦۰ تنه مهاجرین او ۴۲۴ مجاهدین زده کوونکی کړنلارې مطابق له ازموینې څخه وروسته اړوندو ښوونځیو کې جذب شوي دي.

## ۲.۱.۳ لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو لویانو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

**۳.۱ فعالیت: له اړوندو مرکزونو سره په همکارۍ د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې سیمې د ټولو په شرایطو برابرو لویانو د نوملړ چمتوکول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت او اړوند ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې سیمو کې د شرایطو برابر لویانو د نوملړ د امکاناتو د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۳.۲ فعالیت: دکوچیانو په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت او اړوند ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري د ځانګړې تشکیل او بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۳.۳ فعالیت: د جوماتونو د ملا امامانو له لارې د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، ښوونې او روزنې آمریت اړوند ولسوالیو دپوهنې آمریتونو له لوري دځانګړی تشکیل او بودیجې دنشتون له امله ندي ترسره شوی.

**۴.۳ فعالیت: د سواد زده‌کړې په کورسونو، حیاتي سواد او حرفوي ښوونځیوکې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري ټول ۱۳۲٦ تنه زده کوونکو ته د ۱۲ تنو رسمي ښوونکو او ۴۱ تنو قراردادي ښوونکو په وسیله په مرکز او ارغنداب، ژړۍ، میوند، پنجوایي، ډنډ، تخته‌پل، بولدک، معروف، ارغستان، دامان او نېش ولسوالیو کې د سواد زده کړې کورسونو تدریسي بهیر جریان لري.

**۳.۵ فعالیت: د بې ځایه شویو او بیرته راستنیدونکیو شمولیت**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د سواد زده کړې مدیریت اړوند د میوند ولسوالۍ د پوهنې آمریت له لوري ۲۵ تنه داخلي بې‌ځایه شوي او مهاجر زده کوونکي د سواد زده کړې په کورسونو کې د زده کړو په موخه جذب شوي دي.

### ۲.۱.۴ لومړیتوب: د روغتیایي مرکزونو په همکارۍ د جدیدالشمولانو له روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدو، لیدو، د خولې او غاښونو د فضا او ساري ناروغیو له معاینې څخه اطمینان

**۴.۱ فعالیت: د جدیدالشموله زده‌کوونکو له سالمې روغتیا څخه اطمینان**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د ارغستان او نیش ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ټولټال (۳۶۳) تنه زده کوونکي د روغتیا د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د اړوندو ولسوالیو روغتیایي مرکزونو ته ورپېژندل شوي دي.

### ۲.۱.۵ لومړیتوب: په ښوونځیوکې د اوبو، روغتیا ساتنې، نظافت(WASH) د برنامو تطبیق او د لومړنیو مرستو د کیټونو او تبلیغاتي روغتیایي موادو وېش

**۵.۱ فعالیت :د روغتیایي تبلیغاتي توکو، روغتیاساتنې، نظافت او لومړنیو مرستو د کېټونو وېشل**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د روغتیا ساتنې مدیریت له لوري د روغتیا ساتنې، نظافت او لومړنیو مرستو کیټونه د نشتوالي له امله نه دي وېشل شوي.

### ۲.۱.٦ لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه‌کولو سراسري کمپاین

**٦.۱ فعالیت : د ښوونځیو په کچه د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو ضد تابلېټونو وېشل**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د یوباب سردسیره (میانشین) ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو کې (۴۸۸) تنه زده کوونکي د کولمو د چنجیو ضد تابلیټونو څخه برخمن شوي او دغه تابلیتونه ورته وېشل شوي دي. همدارنګه د یادو تابلیتونو د نشتوالي له امله په پاتې ولسوالیو او ښوونځیو کې نه دي وېشل شوي.

### ۲.۱.۷ لومړیتوب: د ښوونځیو په کچه د ورزشي سیالیو تنظیم او د ورزشي استعدادونو پېژندنه

**۷.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې د منتخب ټیمونو د ټاکنې په موخه د پسرلنیو، منییزو، مناسباتي او دوستانه سیالیو په ښوونځیو کې تنظیم او ترسره کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د بدني روزنې مدیریت له لوري ۲۷ بابه ښاري ښوونځیو کې د فوټبال سیالي په لاره اچول شوي دي.

**۷.۱ فعالیت: د پوهنې د منتخب ټیمونو د ورزشکارانو ګډون په ملي او نړیوالو سیالیو کې.**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د بدني روزنې مدیریت له لوري یاد فعالیت د امکاناتو د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

### ۲.۱.۸ لومړیتوب: په خصوصي مرکزونوکې د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول

**۸.۱ فعالیت: د هغو زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړې د ادامې په موخه له هېواده بهر سفرکوي**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري یاد فعالیت د زده کوونکو د مراجعې د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

**۸.۲ فعالیت: له اړوندو قوانینو او لارښودونو سره سم د خصوصي ښوونیزو مرکزونو د زده‌کوونکو د تصدیق پاڼو اجراکول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري یاد فعالیت د زده کوونکو د تصدیق پاڼو د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

**۸.۳ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزوکورسونوکې د یتیمو او بې وزله ماشومانو، د شهیدانو ورثې او معلولینو د فیس د تخفیف اجرا کول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت له لوري ټول (۱٦۱) تنه یتیم، بېوزله او معلول زده کوونکي د زده کړې په موخه مرکزي خصوصي ښوونځیو د فیس د تخفیف په موخه ورپیژندل شوي دي.

### ۲.۱.۹ لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د المپیاد(علمي سیالیو) او د ساینس او ریاضیاتو د عملي پروژو دایرول

**۹.۱ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاست لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د مرکز له لوري د لارښود د تطبیق په اړه لارښوونې ترسره شوي دي.

**۹.۲ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې د آمریتونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ټول (۷۱) بابه ښوونځیو ته د اړوندو سیالیو په اړه لازمې لارښوونې شوې دي.

**۹.۳ فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دښوونې او روزنې آمریت اړوند ساینس مرکز مدیریت له لوري دولایت په کچه ټول (۴۵) بابه ښوونیزو مرکزونوته دالمپیاد سیالیو په هکله لازمې لارښوونې شوي دي

**۹.۴ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د ساینس مرکز مدیریت له لوري د (١٦) بابه ښوونیزو مرکزونو په کچه د المپیاد او عملي پروژو فعالیتونه په لاره اچول شوي دي.

**۹.۵ فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریت په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د ساینس مرکز مدیریت له لوري یاد فعالیت د امکاناتو د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

**۹.٦ فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د پوهنې ریاست په کچه د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د ساینس مرکز مدیریت له لوري یاد فعالیت د امکاناتو د نشتوالي له امله نه دی ترسره شوی.

## 2.2 ښوونکی

### ۲.۲.۱ لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ بېولو لپاره د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو ښوونه

**۱.۱ فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نه دی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نه دی راغلی تر څو د ساینس مدیریت علمي غړو ته روزنه ورکړي.

### ۲.۲.۲ لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

**۲.۱ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکي جوړونې یوه کلنه برنامه دایرول**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف، مسلکي او علمي غړو له لوري د زون په سطحه (ارزگان، زابل، هلمند) کې د سردسیره پروګرام د دویم سمستر (۱۰۲) تنه محصلین او نوي شامل شوي (۱۵۳) تنه، چې ټولټال (۲۵۵) تنه کېږي، د مسلکي جوړونې په یو کلنه برنامه کې شامل دي او برنامه یې په جریان کې ده.

**۲.۲ فعالیت: د ژمي د دوه کلن پروګرام کې د ښوونکو د داخل خدمت روزنې د دوام او تطبیق؛ (د ښوونکو مسلکي کول)**

د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري ټول (۱۵۳) تنه ښوونکو ته د داخل خدمت روزنیز پروګرام پیل شوی او په جریان کې دی.

**۲.۳ فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول**

د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

### ۲.۲.۳ لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا

**۳.۱ فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو لپاره د ورکشاپونو دایرول.**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د ساینس مرکز مدیریت له لوري د ښوونیزو مرکزونو د ساینس، ریاضیاتو، کمپیوټر او لابراتوار ښوونکو لېست چمتو شوی، خو د مالي امکاناتو د نشتوالي له امله تر اوسه ورته ورکشاپونه نه دي برابر شوي.**

### ۲.۲.۴ لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل لپاره اړین تدبیرونه نیول

**۴.۱ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاست او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو لارښوونه**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمریت او د ولسوالیو (ارغستان، خاکریز، معروف، ښورابک، غورک، شاولیکوټ، میانشین، پنجوایي، دامان، بولدک، کښته میوند، ډنډ، ارغنداب او نېش) د پوهنې آمریتونو په کچه، په ښوونیزو مرکزونو کې (۲۷۲) تنه د رشتې خلاف ښوونکو ته لارښوونې شوې دي.**

**۴.۲ فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنه او معلوماتو راټولول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ښار پوهنې آمریت او د ولسوالیو (ارغستان، خاکریز، ښورابک، غورک، شاولیکوټ، میانشین، پنجوایي، دامان، بولدک، کښته میوند، ژړۍ، ریگستان، معروف، ډنډ، ارغنداب او نېش) په کچه، له (۲۰۲) بابه ښوونیزو مرکزونو څخه د ټول (۱۱۹۱) تنو د رشتې خلاف ښوونکو معلومات راټول شوي دي.**

### ۲.۲.۵ لومړیتوب: له رشتې سره سم د شته مدرسینو، استادانو او ښوونکو د توظیفولو لپاره اړین تدبیرونه نیول

**۵.۱ فعالیت: له رشتې سره سم د ښوونکو توظیفولو د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د کارکوونکو لارښوونه:**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د پوهنې ریاست او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوندو ښوونیزو مرکزونو په کچه، (۱۲٦۸) تنو ښوونکو ته د رشتې سره سم د توظیف د لارښود د تطبیق په برخه کې لارښوونې شوې دي.**

**۵.۲ فعالیت: له رشتې سره سم د ښوونکو توظیفولو د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه.**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د ارغنداب، دامان، ارغستان، معروف، بولدک، پنجوایي، ډنډ، نېش او میوند ولسوالیو د پوهنې آمرینو او د مسلکي پراختیا غړو له لوري د رشتې سره سم د (۵۳۰) تنو ښوونکو د گمارنې له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.**

### ۲.۲.٦ لومړیتوب: د صنفي اصولو لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیفولو په موخه اړین تدبیرونه نیول

**٦.۱ فعالیت: د چمتو شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو لارښوونه.**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، د ښار د ښوونځیو پوهنې آمریت او د ولسوالیو دپوهنې آمریتونو اړوند، په ټولیز ډول د ۴۲۲ بابه ښوونیزو مرکزونو په کچه د لارښود د تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه څارنه شوې ده.**

**٦.۲ فعالیت: د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور ملاتړیزه څارنه او د صنفي اصولو د دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي توظیفول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري،د ښاري ښوونځیودپوهنې آمریت او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې له ۵۹۷ تنه اصول صنفي ټولگیو لپاره مناسب ترینه ښوونکو دتوظیفولوڅخه څارنه ترسره شوې ده.**

**۲.۲.۷ لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا غړو گمارنه بشپړه کول او هغوی ته لاربښوونه کول چې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي.**

**۷.۱ فعالیت: د ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غړو د گمارنې بشپړول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، د دې ولایت په کچه ټول (۳۲) تنه علمي غړی مقرر شوی دي.**

**۷.۲ فعالیت: د مسلکي پراختیا غړو لپاره د دندو چوکاټ، د دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، د افکارو روښانولو او مسؤلیت منلو په برخه کې د معرفتي او لاربښودیزو ښوونیزو برنامو دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،دښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د زون په سطحه ټول (۲۵۸) تنه علمي غړو لپاره زده کړیزې برنامی په لاره اچول شویدي.**

**۷.۳ فعالیت: د ولایتونو د مرکزي هستې علمي غړو لپاره د ښوونیزو ټریننگ دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې، دښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د دې ولایت په کچه ټول (۲۷۲) تنه علمي غړو لپاره زده کړیزې برنامی په لاره اچول شوی دي.**

**۲.۲.۸ لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا غړو لپاره د ظرفیت لوړولو پروگرامونو ترسره کول.**

**۸.۱ فعالیت: د ښوونیزې اداري شورا د علمي غړو ظرفیت لوړونه.**

**د ۱۴۰۴ مالي کال ترپای پورې،دښوونې او روزنې آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري  دپوهنې ریاست په کچه د (۱۹) تنو شورا غړو لپاره زده کړیزې برنامی په لاره اچول شویدي.**

**۲.۲.۹ لومړیتوب: د جدیدالتقرر ښوونکو او مدیرانو ظرفیت لوړول او مسلکي پراختیا**

**۹.۱ فعالیت: د جدیدالتقرر ښوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د (ژړي، نیش، شورابک، کښته میوند او خاکریز) ولسوالیو د پوهنې آمریتونو اړوند ټول (۵۴۱) تنه جدیدالتقرر ښوونکو ته د ظرفیت لوړونې ښونیز پروگرامونه د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د یونیسف مؤسسې په همکارۍ دایر شوې او له یادو روزنو څخه برخمن شوې دي.**

**۹.۲ فعالیت: د جدیدالتقرر سرښوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول**

**د ۱۴۰۴ مالي کال تر پایه پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا آمریت له لوري د ښاري آمریت اړوند ښوونځیو څخه ټول (۱۹۸) تنه ذکور او اناث سرښوونکو او مدیرانو ته د ظرفیت لوړونې په برخه کې زمینه برابره شوې او روزنه ورکړل شوې ده.**

**۲.۲.۱۰ لومړیتوب: د ښوونکو، زده کونکو او کارمندانو لپاره د ظرفیت لوړولو چمتو کول**

